کندهار

Kandahar. Kabul
Vol.3, No.10, Jadi 1341
(December 1962)

د کندهار چهل زینه

چل زینه

په کندهار کی یو تاریخی او د لیدلو وړ ځای

زموږ ګران هیواد افغانستان دا شیا یو لرغونی ملک او داسی تاریخی سیمه ده چی د مدنیت پټ ئی وشپږ زرو کالو ته رسیږی .

په دې اوږده فاصله کی آیا ممکنه نه ده چی زموږ نیکه ګانو دی د خپلو فکرو او خپلو لاسو علمی، ادبی او عمرانی او نور د ژوندانه آثار زمانې ته نه وی سپارلی؟

بدې کی شک نسته چی سپارلی ئی دی خو له بده مرغه زمانې دا امانتونه پخپلو حوادثو را ضایع کړی یا ئی په نامعلومو ګوښو کی تر خاورو لاندی کړیدی کوم آثار چی اوس موږ وینو یا ئی د یوې ویرانې څخه په لاس راوړو هغه پخپله د دغو آثارو ټینګواله او همت دی چی تر دې وخته ئی ځان زار سولی او نور به هم نیخه چی تر کله پاته وی .

بدې لړ کی موږ په کندهار کی د چل زینې بنامه (چی منظره ئی د دې مجلې د پشتی په لومړی مخ کی وینی ء) یو ډیرین نقش ؤ نګار دالان او هغه ته ورختلی څو څلو ښت زینې وینو دا یادګار په کندهار کی د لیدلو وړ او تاریخی ځای دی چی د کندهار د احمدشاهی ښار څخه لویدیځ لور ته په درې کیلومتری کی د کندهار د پخوانی هغه ښار ومخ ته واقع دی چی د سربوزې د غره په لمن کی د هوتکو تر سلطنت پوری ودان ؤ، چل زینه پخپله د دغه سربوزې د غره په د مخنی برخه کی پر یوه سم ځای باندی چی د یوه کوچنی غرګی څخه عبارت دی بنا سوې ده، د چل زینې په جوړښت کی طبیعت هم ملګرتیا کړې ده ځکه د غره دا برخه د یوې پزې په شکل واقع ده چی د زینو ختلو د پاره بالکل وړوه او همداسی د یوه دالان د پاره .

د دغه ډیرین اطاق چی زینې ورختلی دی پر دننه او د باندی برخه د مغولی بابر د کورنۍ د فتوحاتو خبری کیندل سوی او لیکل سوی دی او هم د دالان پر دواړو خواؤ د دوو ځناورانو مجسمې ولاړی دی که څه هم اوس ئی سرونه نسته غالباً د دوو زمریانو مجسمې دی .

[د پشتی دریم مخ وګوری ء]

LIBRARY OF CONGRESS
ISLAMABAD OFFICE
29 MAR 2005
6 CONTINUATION 6

کندهار

میاشتنی خپرونه

ادبی . تاریخی . اجتماعی . علمی

مسئول چلوونکی:

ا،م «کرزی»

اداره: د شهیدانو واټ

د دولتی مطبعی څنګ ته

د ۱۳۴۱ لمریز کال د [جدی] میاشت

د ۱۹۶۳ میلادی کال د [جنوری] میاشت

د دریم کال ۱۰ ګڼه

برله پسې ګڼه [۳۴]

کالنی «بیه»

په کندهار کی [۲۸] افغانی

په دننه مملکت کی [۳۲] «

په دباندنیو هیوادو کی یوډالر

ددې ګڼې مضامین

ملی وحدت	په [۱] مخ کی
د کلتور په باره کی د ښاغلی «نهرو» وینا	« [۳] « «
د پښتو ادب یوه ښکلی توته	« [۱۱] « «
[مات لوښی]	« [۱۵] « «
وا یشیاته دا سکندر رانګ او دلته دده فتوحات . .	« [۲۰] « «
د ښاغلی عبدالقادر «تبر» پېژندګلوی	« [۲۳] « «
[نومیالی یوهان]	« [۲۸] « «
د میخورانو نغمه	« [۳۰] « «

ملي وحدت

څرنګه چې فردي ژوند انساني خواهشات نسبي بشپړ کولای نشي نو انسان په اومړي سر کې کورنۍ ژوند غوره کړ دا رتیاو د دپرښت او د طبیعي حوادثو د بېښېدو له امله کورنۍ په قبیلې بدلې شوې او قبیلوي ژوند هم وروسته نړدېږو بېړېږو په ولسي ژوند کې منحل شو کله چې انسانان د مځکې په هره ګوښه کې د پرشول او د دوی په منځ کې یوله بله حقوقي تعاملات پیدا شول نو نو د عمومي مهاجرتونو د پاره

زمینه مساعده تهوه او نه د زور او غلبې په اساس سره ژوند کېدای شوای . مځکه نو د دې احتیاج له امله دولس په دماغ کې دا فکر پیدا شو چې باید په یوه تا کلي مځکه کې خپل ژوندو کړي د حدودو او ثغورو نړ تا کلو وروسته ولسونه په یوه سیمه کې سره راټول شول او د خپل ژوند اړه چارو د تنظیم د پاره ئې ښه نړا د وحدت او یووالي لاسونه سره ور کړل

او د دې د پاره چې په بین المللي ژوند کې تعارف او پېژندګلوي حاصل شي او هم د ملي ژوند د بقا او پرمختګ د پاره جذبات پیدا شي نو ملي سپغې په وجود راغلې، چې همدغه ملي سپغې دی چې ترټن ورځ پورې ئې ملتونه یو له بله سره ساتلي او

د دوی د موجودیت د بقا او پېشرفت سبب ګرزېدلی دی . داچې کوم عامل د ملي وحدت اساس او بنیاد تشکیلوي هغه په لېزشانتي وخېږم، په اومړي سر کې خو انسانان نش د ځان د بقا او مادي منافعو له پاره سره راټول شول او هم داعات د اجتماع په جوړېدو د مدنیت په سازولو او ملي وحدت کې خورا لوی لاس لري. که چېرې د انسانانو په منځ کې مادي اشتراك موجود نه وی نو د هغو راټولېدل ګران کار څه بلکه غیر ممکن دی او د تاریخ له ابتدا څخه بیا تر اوسه پورې نو لو اجتماعي او بین المللي شخړې او جنجالونه له همدې ټکي څخه زېږېدلي او را پیدا شوي دي خو د مادي ګټې د پاره

عادلانه لاری پیدا کیږي نړ هغو پورې به دنیا د کشمکش او پرېشانیو صحنه وی . د وهم خورا غټ عامل چې د یوه ملت او اجتماع شېرازه راټولوي هغه دین او مذهب دی د بشري ژوند د پاره نه یوازې ضروري او لازمي شی دی بلکه دا یو فطري امر دی انسانان به خامخا په ژوند کې عقیده او مذهب لري مځکه دین او مذهب د فردي او اجتماعي ژوند خورا ښه لارښوونکي اود سعادت وخوانه د ټولنو رهبر دی نو کمرغه د یوه جامعه چې افرادئې د یوه دین خاوندان اود یوې مذهبي عقیده پیروان وی . د زېم د ملي وحدت رکن نژاد او ژبه ده نژاد هم په ملي وحدت کې زښته اثر لري

اما د جنګونو او فتوحاتو له
اثره ډېر نژادونه په نورو
هیوادونو کې مشت شوي دي
چې اوس ئې دهغه ملت رنګ او

صبغه منلې ده او د نړۍ په هیوا-
دونو کې به ډېر لږ داسې ملت
وموندل شي چې هغه دي خالص
له یوه نژاده جوړ شوي وي اما

ژبه د ملي وحدت دپاره خورا
ضرور او مهم عامل دي ځکه
انسانان د پوهېدو او پوهولو
دپاره په اجتماعي ژوند کې و

یوې ژبې ته ضرورت لري
که چیرې د یوه ملت په منځ
کې څو مختلفې ژبې جاري وي
او یوه عامه مسلطه ژبه و نه لري

نو د دوی په منځ کې هیڅ کله
فکري وحدت راتلای نشي
ځکه دوی خپل باطني منویات
او نظریات یو په بل نه سي

منلای وختي چې د جامعې
افراد یو له بله پخپلو نظریاتو

او افکارو یوه نه شول دلته هم
د ملي وحدت په مانۍ کې درز

پیدا کیږي او هم د ترقي او
اجتماعي پرمختګونو مخه
نیول کیږي او بل غټ تاوان لا
دادي چې علم او پوهنه چې د

یوه انسان دپاره مهم او ضروري
بلل شوي دي هغه په پردۍ ژبه

کې په ډېر مشکل ډول په
لاس راځي د دې دپاره چې د

یوې جامعې افراد ټول عالم او
پوه وي باید یوه ژبه په جامعه

کې مسلطه او علمي وي څو د
یوه واس خلک و کړای سي

چې د خپلې ژبې د علمي منبع
څخه خپله تنده ماته کړي

په دې صورت به د ملي فکر
څخه الهام اخستل سوي وي او د
فکري تشتت څخه به د جامعې
مخه ونیوله شي د ټولو به یو
فکر یو الهام او یوه د ژوند

ایډیلوژي وي که چیرې د
جامعې افراد په بېلو بېلو ژبو
د یوه ملت په سیاسي حدودو

کې سره ږغیږي او ثقافتي منابع
سره جلا وي نو هلته د فکر
کولو طرز هم بېل او د ژوندانه
هدفونه هم بیخي سره جلا وي

په داسې هیوادونو کې د ملي
وحدت مزي کمزوري د ترقۍ
او تمدن کاروان په ګوډه پښه
خپله لار وهي ځکه نو د ملي

وحدت دپاره د اجتماعي
ضرورت له مخې په یوه ملت
کې د یوې ژبې عامېدل او
علمي کېدل ضروري بلل شوي

دي. څرنګه چې یو شاعر
وائي:-

قوم را اندیشه ها باید یکی
در ضمیرش مدعا باید
یکی.

ا.م د کرزي

له «کلچر نیوز آف انډیا» څخه:

مترجم: محمد موسی «معروفی»

د کلتور په باره کی د ښاغلی «نهرو» یوه وینا

دا وینا ښاغلی نهرو د یوې کلتوری مؤسسې د پرانیستلو په وخت کی واورول، که څه هم له هغه وخت څخه یو څه موده تېره سوې ده، اما دخورا علمی ټکو د درلودلو په نسبت زما خوښه او په پښتو می را واړول.

زه دلته هم له خوشالی او هم له ډېر تشویش سره چی زما په مغز کی محاله اړی دلته راغلی یم. خوشاله یه دې یم چی ما هروخت زمینه برابره کړېده چی د هندوستان کلتوری روابط نه یوازی د ختیځو او اوږدېځو کاونډیانو بلکه د ټولی نړۍ سره ټینګ کړم. د داسی روابطو تنګېده بوداسی موضوع نه ده چی د هرچا په غوښتلو یا نه غوښتلو او یا څېړلو یا نه بللو پوری اړه ولری بلکه اوسنی اوضاع سړی مجبوره کوی چی داسی روابط منځ ته راوړی که نه نو ډېره ناوړه نتیجه به ئی په مخه ورشی.

اوس نو غواړم هغه تشویش په ښکاره ډول ووایم چی زما په مغز کی راپورته کېږی. راز راز سوالونه راته غوندېږی کله بیا خپلو را ریښه داره او کله بیا هغه سوالونه چی د نړۍ د اوسنیو شاوخوا جریاناتو او پېښو څخه را په دوره شوی وی فکر نه راځی.

موږ خو د یو بل، د ملتونو د افرادو او د ټولنو د بېړنداتی یا ډاډه کی ګډېږو مګر که دا ډېره مهمه ده چی موږ باید سره دی، که دوی یو بل د نژدې سره بلدوی خو دا بلد توب بیا هم د دوی په منځ کی د یوه ګډ کومک او خیټی خیټه (کرښه) نه اچوی. نو آیا زموږ د دې طرز العمل ورانه او غلطه برخه کومه ده؟ داوراته نوې نه ده پېښه بلکه د تاریخ پاڼی ئې سپاړېږوی. هغه سهوه چی یو ملت کړېده او یا هغه نیت چی د دې یا کوم بل سوال د باره ترل سوی دی، آیا

اروپا کړوی یا په آسیا کی خو هغه مملکتونه خو را سره موږ یو بل او یو بل محوه کړه چی د دروازه په دروازه او یا د دیوال په دیوال

هغه ورانه نه ده اصلاح سوی که
دغه نیت پر هغه لار نه دی بېول
سوی چی باید پر تللای وای؟
نو د داسی سوالو په راپورته

کېدلو کی موږ بیا د «ثقافتی
روابطو» سره مخامخ کېږو او
پدې حال کی نا ببره زما ورته
پام شی چی بابا دا «کلتور» چی

خلک ئې خورا ډېر، ډېر پر ژبه
راوړی څه شی دی. او یا هغه
وختی را په یاد شی چی زه لا
ځوان وم او د جرمنی

[KULTAR] به می
وایه، کله بیا د جرمنی خلک
هم را په زړه شی چی په جنګ
او یا بله وسیله به ئې وهر یخوانه

ددې کلتور غوړول غوښته او د
همدغه کلتور د غوړېدو او
پېچلو او یا خبرولو او مقاومت
پر سر عمومی جنګ و موښت.

هر سړی او هر مملکت د کلتور
په باره کی یو عجیب و غریب

فکرلری نو کله چی د کلتور
روابطو خبره منځ ته راسی د

تیوری او ظاهری شکل له رویه
خورا ګټوره بلله کېږی خو

په حقیقت کی همدغه حیرا-
نونکی مفکورې دی چی د
نړیوالو په منځ کی د جنګ اور
تازه کوی او پر ځای ددې چی

سره شناخته او خپلوان ئې کړی
د بېګانه توب او مفارقت لار ورته
چارو کوی. دا چی کلتور واقعاً
څه شی دی؟ خورا اساسی سوال

دی. اما زه په ځان کی د کلتور
د تعریفولو توان نه وینم ځکه
نه ئې پېژنم که څه هم ډېر وی
یا لږ. سړی ئې وینی چی هر

ملت او هر مدنیت خپل خپل
کلتور او مدنیت پر مخ بیائی
په داسی حال کی چی دا مدنیت
د هغو ریښو لرونکی وی چی په

سوو او زرو کلونو مخ کی پدغه
نسل کی ښخی وی او یا په بل
عبارت د هغو اولنیو او ابتدائی
افکارو په چوکاټ کی پوره

ایښول سوی وی چی او له پلائې
دغه مدنیت پر دا به اوږده لار

راسم کړی ؤ.
د بله بلوه سړی ئې وینی چی

بشری خیالات او افکار سره
اخښل سوی دی، اعمال او عکس-

العملونه د مفکورو په لږ تغیر
یو شانته وی. زه ګمان کوم چی
په نړۍ کی هیڅ یو داسی کلتور
نسته چی بیخی سپېڅلی او پر

خپل اولنی او ابتدائی حال
پاته او یا د بل کلتور اغېزې
سایه نه وی پر کړی.. دا نا
ممکنه ده، ځکه کلتور لکه

یو سړی چی په سل کی سل نشی
ویلای چی په کوم نژاد یا قوم
اړه لری، د زرو، زرو کلو په
تېرېدو کی دراز، راز تحولاتو

او ګډېدو یا اختلاطو نو سره
مخامخ شوی دی.
نو کلتور ډېر یا لږ اخښل کېږی
که څه هم د یوه خاص ملت د

کلتور اصلی ریښې به د نفوذ
څښتنانی وی اما ددې سره سره
هغه کلتور هم نافذ او هم منفذ
او یا تأثیر بخښونکی دی. که

دغه اخښل کېدل د سولی په
فضا کی وی نو تاوان نه پېښوی

مګر اکثراً د جنګ د پېښېدلو
دلیل ګرزی. کله بیا یوه ډله

دا او خی په زړه ننباسی چی
که مو کلتور د اورو ثقافتو تر

اغېزې لاندې راسي نو مضمحل
کېږي. ځکه نو دا ډله پر ځان
تلنګ راغوړوي او له نورو څخه
بېخي ځان ماسوا کوي چې بدې

صورت د خپلو افکارو د بهرته
وتلو مانع ګرزي چې دا پخپله
یو ناروغه او غمجن وضعیت دی.
په هره موضوع کې، په تېره بیا

هغه موضوعات چې د کلتور سره
تعلق لري، رکود او بخ کرخ او
بې حسه پاته کېدل. زیان-
رسونکی دی. هغه کلتور خو

حقیقي ارزښت لري چې د ژورو
سټو خاوندوي اما دیوه تا کلي
دا ینمیکي DYNAMIC
خاصیت درلودل هم ورته لازم

دی. پر دې علاوه ثقافت پر نورو
ډېرو عواملو باندې تتې هم
اچولې ده. ښائي هغه چوکاټ
چې د ملتونو د پرمختګ په اوله

ځینه کې ودې ته ور کړه سویدی
د جغرافیوي موقعیت، آب و

هوا او د نورو ټولو واقع سوو
پېښو تر تاثیر لاندې وي. د

عربستان کلتور د جغرافیوي
موقعیت او صحراؤ په واسطه

اداره شوي او په هغو کې ئې رشد
کړي دي. د هندوستان او باختر
کلتور د همالیا او هندوکش د
غرو ګڼو ځنګلو او څپاندو

رودو تر تاثیر لاندې دي چې
زموږ په ادبیاتو کې لکه
کوکیانې ځلانده بریښي. که
دا دوه کلتوره سره ګډ شي نو

یو داسې ښکلي او په زړه پوري
ترکیب به جوړ کړي لکه
څرنګه چې د ادب، موسیقي
معماري او نورو کلتوري حوزو

په منځ کې چې ئې منځ ته
راوړي هم دي.
مګر کله چې یوه ډله غواړي
پر هغه ډله باندې خپل کلتور

تحمیل او په زوره ومني چې په
طبیعي ډول رشد نه کوي، په
طبیعي ډول خپل چوکاټ نه
تراشي او پخپله د ځان ریښې نه

او بوي، نو جګړه او نښته منځ
ته راځي. یا په بل عبارت هغه شي

منځ ته راځي چې اساساً زما
ذهنیت او د کلتور په باره کې د

هر ډول تلقي پر خوا نه وي جوړ
داشي د افکارو د انزوا او بېلتون

سبب ګرزي ځکه بالانو بیا
افکار د نورو د تاثیر قبلولو د پاره
تیاري نه ښکاره کوي.
د هندوستان د تاریخ متعلق زما

نظریه دا ده چې موږ د هندوستان
د ودې او پرمختګ او همدا
راز د دې ملک د ترشاپاته کېدلو
او غوځارېدلو اندازه د هغو

کوښښو څخه اتکلولای شو چې
انډیا د نورو په مخ کې د خپلو
ذهنیتو، افکارو او خیالاتو
دروازه ارته کړي او یا تړلي

وي. هر څومره چې ئې دروازه
په ځان پسې تړلې ده هغومره
سټټیک پاته شوېده. د فرد
ډلې او ټولنې او د هر چا ژوند

خامخا یو دا ینمیک، متحوله او
تکامل کونکي واقعیت دی
هر کوم شي چې دغه د دا ینمیک
د تکامل ایدیا د روی په حقیقت

کې ژوند پر هاري او تباه کوي.
زه په پوره درناوي دا وراشي

پېیم او که زما خبري چې شخصاً
هیڅ چا ته نه دي متوجه، پر چا

بدي نه لګېږي باید ووایم چې
موږ داسې لوی مذهبونه

درلودلی دی چی هغو پر بشریت
باندی ډېر تاثیر اچولی دی. زما
په گمان ټولو هغو مذاهبو چی
دانسان مغز سټټیك او متعصب

کړی دی ډېر، ډېر کړ کېچن
تاثیرونه ئې نقش کړیدی.
مذاهب خو هم ښه فایده مند
حقایق وائی اما که یوازی او

یوازی دغه خبره اضافه کاندی
چی تر دغه ځایه باید ولاړ شی
نو بیا ټولنه سټټیکه پاته کېږی
چی په نتیجه کی د کلتور پر نه

لوېدلو او نه رشد کولو باندی
تمامیږی.
آیا تاسی څرنگه دالاندی دوه
مهم عوامل اندازه کولای سی؟

یو داچی هر سړی، هر گروپ
او هره ټولنه باید ځانته په یو
ځای کی یو معلومه ریښه او
معلوم نسب یا شجره ولری. که

یو فرد سطحی او بې نسبه وی نو
د هغه کلتور هم دده د سطحی

شعور په اثر بې نسبه او بې ریښې
وی چی دا ډول سړی نو باید په

سړو کی و نه شمېرو. صرف هغه
گروپ، یا نژاد، یا ټولنه د

شمېر لوور کېدلای شی چی پخپل
تېر تاریخ کی د هغو ریښو
خاوندوی کومی چی داوسنی
نسل دپاره د تجربو او تعقل یوه

او یه ذخیره بلله کېدلای شی.
نو تاسی که یو یاست یا تر یوه
ډېر، باید دغه ریښې ولری که
نه نو تاسی به د هغه شی یو ساده

نمونه او کاپی و گرزی چی په
حقیقت کی ستاسو دپاره هیڅ
مفهوم او معنی نه لری.
دو همه بیا داچی یوازی سړی

په ریښو هم نشی پائېدلای او هم
که غواړی چی ریښی ئې د
ورستېدلو څخه خلاصی شی او
گټوره مېوه ور کړی نو باید و

تازه هوا او دلمرو وړانگو ته ئې
لڅی کړی پداسی صورت کی
نو ریښې وده کوی او ښاخونه
او گلان را باسی.

اوس به نو ځینی ښائی دا خیال
و کړی چی تاسی د پورتنیو دوو

حالتو په مینځ کی اندازه ونیوله
اما دا کار ډېر ستوخ دی ځکه

بعضی خلک یوازی او یوازی
د ښاخو او گلانو په ښکلا، نازك

شکل او فریبانه حرکاتو کی
ډوب شی، دائې له یاده ووزی
چی نمو او وده خو اصلاً د
لاندنیو قوی ریښو د موجودیت

مرهونه ده. بله ډله د خلکو
بیا ریښو ته اهمیت ور ډېر کړی
خو داسی ریښې چی له تنې او
مېوې یا پاڼو څخه لڅی وی هم

چندانی په کار نه راځی. نو
آیا پداسی حال کی څوك اصلی
معیار او اندازه پیدا کولای
شی او یا ویلای سی چی د دې کوم

ځای کلتور او کوم ځای ئې
کلتور نه دی؟
آیا د کلتور معنی د یو سړی
داخلی وده ده؟ البته، هو. آیا

کلتور د نورو سره د طرز گذاری
معنی لری؟ حتماً، دغسی ده.
آیا د نورو د پېژندنی وظرفیت
ته کلتور ویل کېږی؟ زه گمان

کوم، چی همداسی ده. آیا و
نورو ته ستاسی د ځان ښوونی

او تبارز ظرفیت به د کلتور
مفهوم ولری؟ زما په خیال دغسی

ده. کلتور دا ټوله معناوی
لری. هغه څوك چی د نورو د

نظر تکی نشی موندلای په هره
اندازه که جامع هم وی، دیوه
پراخ او جامع ذهنیت او کلتور
څخه بې برخی دی، ځکه یو

سړی په یوازی سر د پوره علم او
تعقل و معراج ته نسی رسېدلای
پدې ځای کی ځینی خارق العاده
انسانان مستثنی دی . نوری

دلی هم ځانته د تفکر، تعقل او
د حقایقو جلا جلا رنګ لری
او که موږ دهغو په مخکی د
خپلو مغزو دروازې خلاصی نه

پرېږدو نو نه یوازی ځان دهغو
له متاعو او ښېګڼو څخه ګوښه
کړو بلکه د خپلو دماغو د پاره
یو داسی وضعیت رانیسو کوم چی

زما په عقیده د یو کلتور
غوښتونکی سړی و طبیعت ته
بیخی نه دی ورته، ځکه یو
کلتور غوښتونکی ذهنیت د

خپلو کلتوری ریښو دلرلو سره
سره د نورو کلتورو د منلو او

جذبولو د پاره د خپل دماغ
دروازې او کړکیانی پرانیتی

پرېږدی .
یو ذهنیت باید د نورو د مد نظر

تکو دلو ستنی د پاره تکړه وی
که څه هم دهغه سره هر وخت
توافق او ښه زړه و نه لری ځکه
د توافق او نه توافق پوښتنه هغه

وخت و مینځ ته راځی چی یو
شی ښه و پیژندل شی . برخلاف
که یو سړی په پټو سترګو د
داسی حقایقو څخه ډډه کوی نو

دده دا عمل و یوه سوال ته کلتوری
رسېدنه او تجزیه نه بلله
کېږی .
زه به یوه بله کلمه هم استعماله

کړم.. دا کلمه ساینس (علم)
نومیږی . د ژوند و معضلې ته
علمی رسېدنه څه شی ده؟ جواب
ئې دادی: دهر شی امتحان کول

او تدقیق، د پوښتنی او سهوی په
کومك د حقیقت څارل او
پیدا کول، لیدل او تجربه کول
هیڅ خت نه ویل چی داشی باید

داسی وی بلکه د یو شی
موندل هغسی لکه چی دی، که

څوك پریوشی اعتقاد ولری د
هغه شی منل او که په همدغه

ګړی کی یو بل استدلال چی
باید یو مغز دهر شی د منلو د پاره

خلاصه غېږه نه وی ولاړ منځ ته
راغی د فکر او اندېښنې ژر نه
اړول او دهر تند باد سره نڅا
نه ګول باوجود ددې چی یو لوړ

ذهنیت باید دهر نوی فکر د
کشولو د پاره، چی نوی پیدا
شوی وی، چمتو وی . نو آیا
کلچر هغه ؤ چی یاد مو کړ ؟

اوه... څومره د ننني متمدنی
نړۍ او نوی دنیا څخه لیری پاته
شویدی. که یو څه لا لیری واقع
شوې وای نو بیا به د اوسنیو ملی

او بین المللی کړ کېچنو حل او
فصل زښته ګران اېسېدلای .
په نړۍ کی هر مملکت دا چرت
وهی چی زموږ د غړ کی خوند

تر نورو ښه دی او یا خدای [ج]
تر نورو موږ ته ښې متاع ګانی
را بخښلی دی، زموږ خلک تر
نورو ممتاز او زموږ قوم تر

نورو اصل دی . نور انسانان
به ښائی یا ښه وی یا بد .

اما تر موږ په درجه کی پاته دی
د حیرانتیا وړ ځای خولا دادی

چی بېله کومی استثنی څخه
تولو انسانانو خپل مغزو نه دې

نشو افکارو او خیالاتو ته خالی
کړیدی .
شرقی ملتونه خو بلکل پخپلو
خیالاتو او عقیدو کی نغښتی دی

کله بیا دژوندانه په ځینو چارو
کی تر نورو ځانته لو لوته هم
لیږدی او ځانته په امتیاز هم
قائلیږی . په هر صورت دتېرو

دوو یا درو سوو کلو په موده کی
ددوی پر سرو هم ښه سخت واری
وسوه ، ریښې ئې پرې ، تنې ئې
داغی او د استثمار په سکروټو

وویشتل سوه . نو بیا ددې فکر
سره سره چی دوی تر نورو
ملتونو ممتاز او پورته دی دهغه
تریخ حقیقت ومنلو ته هم اړ سوه

چی ګوا کی نور خلک هم دوی
تر تلای او استثمار کولای شی .
که لږ څه دقیق سو نو ددوی پر
منابعو باندی دغه وارو او تېریو

ددوی دحقیقت غوښتلو شعور
راوپاراوه .

دمخه هلته د حقیقت څخه د
تښتېدلو یو کوچنی تمایل پروت ؤ

هو ؛ یو غمجن تمایل ؤ .
دوی به ویل : ښائی چی موږ به په

ظاهری او مادی شیانو کی
کښته پاته یو ، اما په ضروری
شیانو ، اخلاقی ارزشو او معنوی
ګینو تر نورو ښه آراسته یو .

زه پدې کی هیڅ شك نه لرم چی
معنوی شیان او اخلاقی ارزشونه
په آخری درجه تر نورو شیانو
ښه دی اما دا ځای می حیرانوی

چی ځینی فقط پدې ساده استدلال
چی معنی پرسته لوړ شعورونه او
فزیکی او مادی شعورونه پست
او حقیر دی دځان دپاره دنښتی

او بانی لار چوړ وی . داسی
لاری باید چی بندی شی ، پردې
لار تلل د حقیقی خرابی د
عواملو پیدا کول ګرانوی .

نشنلیزم یوه خورا فوق العاده
پېښه ده ، دا پدیده که څه هم د
ملتونو وتاریخ ته دژوند او به
ور کوی ، وده ور بخښی ، قوت

ورډېروی او بالاخره اتفاق او
اتحاد ورته راولی . اما په عین

حال کی دهغو د محدودولو او
تر تلو دپاره هم یو میلان ښکاره

کوی . ځکه هر یو دخپل ملت
په برتری او تفوق غوښتلو کی

دومری مبالغې ته ورسیږی چی
آخر ئې نو د نورو ملتو سره هیڅ
متناسب او د پرتله کېدلو وړ
نه بولی .

صحنه اوړی ؛ او هر یو دخپلی
مبارزې او غلبې او د بل دتباه
کولو او ډنګرولو په چرتو کی
ډوبیږی تر څو چی په نتیجه

کی همدغه نشنلیزم چی دخلکو
د ودی او رشد سمبول دی د
ذهنیتو دتیاره کولو او راکد
پاتېدلو مظهر ګرزی . کله چی

بیا همدغه نشنلیزم یوه بریالی
بڼه کښلی وی د زور په چلولو
پر نورو باندی دغوړېدلو لار په
مخه ور کړی او دیوه بین المللی

خطر به شان غور ځکی پورته
کړی .
نو بالاخره تاسی چی دتخیلاتو
هر تار تاو کړی دې نتیجې ته

رسیږی چی باید ددې شیانو په
منځ کی یوه پوره اندازه او

اتکل پیدا کړه شی که نه نو
هر هغه شی چی تاسی ئې خیر

بولی پر شر رااوړی .
دغه کلتور چی حتماً یو مفید او

جامع مفهوم ئې، که دیوه مضر دمخه تردې چې سړی د یوې دانسان په روح کې جنګ سته
نقطه نظر څخه وکتل شي یا موضوع په پاره کې زغیږي خو زه نه پوهیږم چې ددې
پرېکړه لا راستعمال شي نه یوازې لومړی باید د بشر د پاره دعادي موضوع متعلق په څه تصمیم او
پوستیګ او راکد بلکه د ژوند اولیه ضروري او اساسي نیت وتړل شي.

تجاوز او تېری محاله کرزی او د مواد راغونډ کړی، چې دلته نو یو بله اندېښنه چې زما خاطر را
جنګ او نفرت سبب کېږي. بخپله اقتصاد را کډېږي. ځکه کروی هغه داده: کوم خلک
زه نه پوهیږم چې اوس په نو دانورځې انسان په یو داسې چې د پرېکړې سره پېژني زیات
څرنګه تاسې یو پوره انګل وضع کې نه دی چې ددې نو او زیات په غاړه کې سره لویږي

پیدا کړی. دا اقتصادي او سیاسي ستونزې، لوږ او بې عدالتیو په او جنګونه کوي. ددې سره سره
موضوعاتو او کړکېچنو څخه مخ کې خو نسرده پاتې سي بداسې تاسې نشي ویلای چې موږ باید
ماسوا ښائي چې همدغه شي حال کې چې ښه ئې وینې نو له یو بل ښه سره ونه پېژنو ځکه
زموږ ورځنۍ معضله تشکیله مملکتونه په مساوي ډول دا داعمل د ځان محدود ول ارمختنق

کړی. ځکه هم دانورځې د بار پراوږو نه اخلي. بار یو کول دی، همدارنګه د ننني
انسان په روح کې د جنګ پورته کوي او کټه بل وړي. ورځې متمدنه دنیا په رېښتیا
دیاره یو خارق العاده تمایل نو خامخا باید د داسې موضوع نو دداسې اعمالو ویاړ نه نشي
پروت دی او هم د انسان روح په سره د اقتصادي یا بلې لارې له کولای. نو لدې کبله دا ارتیا

هغه نتیجو یې تلولې تلولې نلاش خوانماس او اړیکې پیدا کړې حسیږي چې انسانان باید د یو
کوي چې اصلاً نه پیدا کېږي مګر زه فکر کوم چې د اقتصادي بل د پېژندګلوي دیاره د ثواب
دوی و اقتصادي موضوعاتو نه پرابلمونو ترشا د انسانانو په دماغ او صحت لاره یې کړي خو...
نژدې کېږي او دغه اقتصادي کې یو عجیب وغریب روحي درسته او صحیحه لاره حتمي ده

پرابلمونه بېلې شکه د پړ اهمیت سوال یا موضوع ځای لري. له صحیحه رسېدنه او دوستانه
هم لري ځکه دا به خوراشوده کې دې کبله دی چې ځینې انسانان رسېدنه حتمي ده. ځکه یوه
وی چې یو سړی هغه وخت چې بدې باره کې په بیداري سره دوستانه پېژندګلوي او نژدېکت
انسان دلوزی څخه مړی د تعمق او دقت کوي که څه هم بله یو دوستانه مسئولیت او تکلیف

کلتور او حتی د ما فوق الطبیعه دله بیا له پېوښې او مسامحې منځ ته راوړي. زه د انسانانو
قدرت په باره کې بحث را واخلي څخه کار اخلي. په هر صورت په ژوند کې یردې قانون باندې

د شك سايه نشم اچولای چی هغه دادی: هر څومره چی نژدې کت

نېك او مبارك وی هغومره مسئوليت او تکليف خيرلرونکی

او پر بر کته وی او هم عکس د هغه.

نو که موږ وخپلو انسانانو ورونو يا نورو مملکتونه په يوه معقوله

او دوستانه لارزړه ورنژدې کوو مګر پداسی حال کی چی زموږ

د نبوغ او حقيقت ارزښت-لرونکی ښارګونه مختنق نه

شی، او د خپلو زړو او ذهنيتو ورونه د ټولو هغو ګټورو

حقايقو دپاره چی د دوی په برخه کېږی خلاصی پرېږدو

نو دا به نه يوازی د يوه تفاهم او پېژندنی دپاره بلکه د ښې

پېژندنی او حسن تفاهم دپاره هره زمينه وتراشی.

اوس مو نو خپل سرته پرېږدم څو معلومه کړی چی کلتور

څه او عقل څه دی؟

موږ د زده کړی په چمن کی

« د پوهانو په نظر »

زمانه او وخت

څرنګه چی د عصر او زمانې په مينځ کی ژوند کوو، نو مجبور يو چی د زمانې سره سم وړاندی ولاړ سو، که نه نو زمانه به موږ وړاندی ټېله کړی.

هغه څوك چی پخپله خوښه سره د زمانې سره مخ ته ولاړ سی خوشبخته دی. [هردر]

* * * *

موږ ټول د زمانې زامن يو. [شه فر]

شنه کېږو، د پوهنی په کرد کی غوړېږو، د ازمايښت

(تجربې) په کښت کی زرغو-نيږو او د زده کړی، پوهنی

او ازمايښت په لويو ګدامو کی دومره ور کېږو چی آخر

د خپلی پوهی اندازه راڅخه ور که شی او د اندازه اخستلو

څخه ئې عاجزه شو. موږ پدې پوهنه کی دومره پټ او لړل

کېږو چی په آخر کی نو سړی ته يو ډول بل ډول ادراکونه

او افکار پيداشی او وائی چی دغه ټوله پوهنه که سره يو ځای

شی بيا هم د بشری نسل د عقل په پوخوالی او د ذکاء په

ارتېدلو کی اساسی مرسته نشی کولای.

زما سره دا احساس شته چی هغه پخوانی خلګ چی زموږ د

اوسنی دنيا د نوی تمدن او نويو علومو او فنونو څخه

ناخبره وه ښائی چی د ژوندانه په اساسی برخو کی زموږ تر

ډېرو کسانو عقلمند تېر شوی وی. زه نه پوهېږم چی آيا

وروسته به موږ د بشری نسل دا ټوله پوهنه، سيانسی وده

او ارتقا په يوه پوره او حقيقی هوښياری سره پرله ګډه او

ترکيب کړو که يا؟ زه خو نه پوهېږم ځکه انسانی نسل

د مختلف الجهته قوو ترمنځ ځرېږی.

[زموږ ژبه]

ښاغلی عبدالحی «حبیبی»

د پښتو ادب یوه ښکلې ټوټه

کله چې یو توریالی جنرال

شعر وائی



د پښتنو په تاریخ کې د دوولسمې هجرې پېړۍ لومړۍ برخه د یوه ملي قیام او رستخیز دوره ده. په دغه وخت کې د پښتنو نامي پهلوان اولوی شاعر خوشحال خان مېرشو، او دده له اسفناك مرګ سره دلیرې پښتو نخوا د ننګیالیو پښتنو ملي جهاد دمغولو د ظالم او بردۍ جګومټه سره هم ختم شو.

مګر پښتنه ابې شنډه نه وه
یه همدغه زمانه کې له برؤ پښتنو
څخه یو بل مېړه د هوتکو یه
درنه کورنۍ کې پیدا شو، چې

مېرۍ ئې د دمن زړه او بینا
ستر ګې هم درلودې، د یوهې
او علم خاوند ؤ، او د یتې خزانې
د مؤلف یه قول ئې مروج علوم

ولحلیده، اوس د ارغنداو بر
غاړو بر کنده را وحلیده، او
د میرویس یه رهنمائی او تدبیر
د کندهار یه تاریخ ښار کې د

کندهار یا نو حاجي میرخان
باله، او دا هغه دروند او آزا-
د بخواه او مدبر سپین ږیری
دی؛ چې اصلي نوم ئې میرویس

آزادی کلکون بیرغونه
وربېدل!
د میرویس خان د آزادی د
جنګو او د هوتکو د کورنۍ

لکه: فقه، تفسیر، فصاحت، صرف
ونحو او پارسي کتب او ستلی وه،
زما مطلب یه دې لیک کې د
سیدال خان لښکري نبوغ او

خان ؤ.
میرویس خان د کندهار یه
سیمو کې هغه مشال بل کې
کوم چې شل کاله مخکې

یو توریالی جنرال سیدال خان
ناصر ؤ، چې له کندهاره تر
هراته او اسپها نه دده دهمت او
فتوحاتو او توری د محلامیدان ؤ.

جنګي ماتر نه دی، خو دوئې
باید ضرور ووایم چې دغه نامتو
او مېړه جنرال به هرات او
کندهار کې د وطن د دفاع او

خوشحالخان دلندۍ او اباسین
پرغاړه روڼ کړی ؤ، هغه رڼا
چې لږ وخت د مخه د اکوړې او
خټکو او یوسفزو پرسمه اوغر

د پښتنو د اوی جنرال او فاتح
سپه سالار چې د هوتکو د دورې
ارت فتوحات دده به نوره او مرانه
شویدی، د تېرې نورې او دلاورۍ

د پښتنو د عظمت لپاره تردې حده
وجنګېدی، خو به پای کې د
کلات به جنګ کې د نادر افشار
به لاس ورغی، او دهغه به حکم

ړوند کړشو او پاتهٔ عمرئې د کابل په شکر دره کی تېر کیء، او هم ددغه ځای د سیاه سنګ په هدیره کی ښخ دی.

وائی چی د کوم انسان په فطرت کی د نبوغ او عبقریت استعداد وی، نو که دغه داتلتوب لیاقت په یوه رنګ کی ښکاره نشی، په بل رنګ او بله صبغه کی خو ضرور ښکاره کېږی.

شاعری اصلا یو نفیس او جمیل فن دی، چی د انسان له فطری او جمالی استعداده رازیږی، نو که یو سړی ددې هنر لپاره په خټه کی تومنه لری، خو د ظهور او تجلی لپاره ئې مساعد چاپېر نه و مومی نو ښائی چی ددغه وړتیا او لیاقت د څرګندیدلو لپاره کومه بله مساعده او سمه مجرا پیدا شی، او هم له هغی خوا د نبوغ او اتلتوب مظاهر څرګند شی.

زموږ تور یالی جنرال سیدال خان هم له دغو وتلو او نامتو انسانانو څخه وو، چی د شعر د نفیس صنعتهٔ سره ئې عسکری اتلتوب او نبوغ هم درلود، مګر لکه ددې زمانې له یوه بریالی جنراله چی چا پوښتنه وکړه: ستا شعر خوښ دی؟ هغه وویل: هو! که زه جنرال نه وای، نو به لوی شاعر وای.

اما سیدال هم لوی جنرال ؤ هم ښه شاعر ؤ، د پټی خزانې مؤلف محمد هوتک وائی: سیدال خان ناصر په هغه وخت کی چی په جنګو ګرفتار نه ؤ: نو به ئې اشعار ویل، او د عشق سندری به ئې کښلې، خو اوس په اسپهان کی په مهماتو بوخت دی، او د شعر ویلو فرصت ئې نشته او ورځی ئې په هسی جنګو تېریږی چی رستم هم ځنی ډار کا.

د سیدال له عسکری نبوغ او لیاقته سره دغه ادبی ذوق او نفیسه قریحه ډېره ښه ایسی، دده د شعر ډېری نمونې موږ اوس نه لرو، خو د پټې خزانې د مولف په همت دده یوه ملی بدله ګو تو ته راغلې ده.

دا بدله د یوه ملی او خاص پښتو وزم او شعری رنګ نمایندګی کوی او د هغو سپرو بدلو یوه ښکلې نمونه ده چی تر اوسه ئې هم بدلچیان، د کندهار په باغو او د سیوری او اتغر په سیمو کی په تولنه او ښکلو خو نده ورو ږغو وائی او زموږ د ملی بدلو او کسرونو یو خاص ډول دی.

د مینی دنیا بېل بېل رنګونه او ډول ډول مظاهر لری، کوم وخت چی سړی په دغه کوڅه کی قدم ږدی، بیا تر هغه دمه چی ددې لاری په ګېږو وږو بېچومو روږدیږی، ډېر مراحل به طی کوی، څو چی پای ته به هر څه د خپل یار په رنګ کی وینی او تش به هم په ده مشغول وی مولوی بلخی دغه حال داسی څرګندوی:-

دوست نشسته در نظر، من بکجا نظر کنم
دوست گرفته شهر دل، من بکجا سفر برم؟

سیدال خان دغه مقام ته د بدلی پدې کسر کی په فصاحت او خوږتوب ښه اشاره کوی:-

یار ما له هسی گران سو
را تېر تر تول جهان سو
نور نه وینم په ستر ګو جهان تول را ته جانان سو

ظاهراً له یوه عسکری سړی څخه د صوفیانو د تحقیقی مقام داسی بیان عجیب ښکاری مګر د فطرت د جمالی تشعشع تجلیات خو پر کائناتو عام دی، او ښائی چی بو سپاهی هم دهغه سیل په هغو ستر ګو و کړای شی لکه مدقق صوفی چی ئې داشراق په برکت کوی.

د سیدال د بدلی او مسری بند داسی شروع کیږی:-

دوې زلفی دی اوږدې کړې
پر مخ دی را خپرې کړې
سړې اشربې دی په تندی باندی سپرې کړې
ګرزې په باغ کی په ګلونو کی نخرې کړې

په اور دی وسوم پاره
رانه اور تازه بوستان شو

یدې بند کی ښاغلی لوستونکی ته دیوې پښتنې معشوقې کړوره او د جمال مظاهر ښه ښکاری او دلته دیوه پښتانه توریالی او بریالی جنرال عاشقانه څېره څرګندیږی، او دده شعر هغه رنګ مومی چی باید د پښتنی محیط او پښتنی تخیل نمایندګی و کړی، او هسی وږغیږی لکه یو پښتون چی زغیږی.

په دوهم او دریم بند کی د عاشق حال او د زړه خوږ په هغه ډول تصویر کوی کوم چی د شرقی ادب د تخیل او محاکات مشترک میراث دی. دلته د ورځو لیندی او د بانو غشی ضرور کار کوی او داخو هغه د زړه حربی سیستم اثر نه دی چی به شرقی ادب کی عموماً د تعبیر لپاره له هغو څخه کار اخلی ځکه چی په هغو وختو کی لا اور نه وسلې نه وې عامی شوی، او د جنګ پر میدان به هر توریالی یا نوره ځلوله، او یا به ئې غټی، غټی لیندی او ژوته اچولی وې او به هغوی به ئې تېره غشی ویشتل نو شاعر به خپله معشوقه هم په هغو وسلو مسلحه کړله. او به هغه وخت کی د شاعر وظیفه همدغه وه چی د خپل محیط ترجمانی و کړی

اما اوس که هم د اقرم په زمانه کی زموږ کرانه معشوقه له هغی کیږی لیندی او غشو څخه کار واخلی او د مین خراب زړه به هغو پخوانو وسلو وربتی کوی، نو کرانه لوستونکیه ته پخپله فکر کړه، چی د پر قدامت پرستی او ارتجاع نه ده؟

سیدال وائی:-

مین چی آشنائی کا شپه ورځ به کریانی کا
شهی ده ستمګاره خوشال زړونه به زخمی کا

لیندی ساری د ورځیو، د بانو غشی کاری کا
پر هار می کوره خلقه!
د دلبر د تیر نښان شو
مین به او یو غرو ځی
سرتور به نیمو شپو ځی
ووزی له وطنه، وطن بر ېږدی پرچولو ځی
فریادو ناري و کا، به ناروپه غلبلو ځی
وصال ئې نصیب نه شو
کوره زړه دک به ارمان شو
پخوا خو به مین د عشق به درد او سوز کی لپونی

غوندی پر بوښو ګرزېدی او مخه به ئې پر دښته او سارا نیولی وو او خاوری به ئې هم پر سر بادولې مګر دا د جنون لوړ مقام او سنی بدبخت مین ته حاصل نه دی . ځکه چی اوس ښارو ته نزدې

بوښی او سارا نشو پاته ، ټول ښکلی او لوړی ماڼۍ سوی ودانۍ او لاری هم ټولی په سمیټو کلکی سوې ، چی بیچاره مین یو موټ خاوره نشی پیدا کولای ، چی پر سر ئې وپاشی ، او که هم څوك

داسی لېونی غوندی پر بوښو ګرزی او خاوری پر سر بادوی ، نو ئې پولیس ژر دار المجانین ته بیائی ، چی ښاغلی د کتور ئې د لېونتابه علاج وکی . نو پدې اوسنۍ دنیا کی به څوك زموږ

قدامت پسند او د پخوانو افکارو خاوند مین د ښار په کوڅو کی ایله کړی ، چی د ماښامه تر سهاره په خپلو نارو غلبلو نور خلک له خوبه وباسی او آرام ئې ور وران کی ؟

سیدال خان وائی :-

ناري وهم عالمه ! دشپې تر صبحدمه
نانوانه د بېلتون یم یو ګړی نه لرم دمه
بېتامی نفس خیژی راځه زما دزړه همدمه

نظر په ما غریب کړه
چی تا خون می ستا په ځان شو

مین پخپله ذهنی دنیا کی کله کله تشبیهات پیدا کوی ، او غواړی چی د خپل زړه کړاو او د عشق درد وسوې د تشبیه په وسیله خلکو ته وښیی ځکه چی دا بېدرده عالم خو دده د مین تابه کړاو نه په دغو مادی سترګو نه وینی ، نو ځکه دی له استعاري او د تشبیه او نورو ادبی حیلو څخه کار اخلی .

سیدال وائی :-

شبنم په ګلو ښکاری
زما او ښکی داری داری

خو ناب ځی ستا له غمه زما په مخکی لاری لاری
تمامه شپه کم تېره په ژړا په ناري ناري

ښکاره شوه چی مجنون یم
لېونتوب می اوس عیان شو

بوستان ښکلی زېبا دیء
رنګین په او ښکو زما دیء

دزړه پر هار ګلګون دی چی بلبل په تماشا دیء
په مینه می زړه وچاودی ته وایی په خندا دیء

نتلی د بېلتون یم
زه سیدال دا می بیان شو

د سیدال د شعر او شاعری خوا دده له حربی نبوغه او کمالاتو سره البته نه قیاسیږی مګر دا خو ضرور ښکاره کوی ، چی سیدال تنها جګړن سپاهی نه وه ، بلکه عالم ؤ ، شاعر ؤ د آرټ ذوق ئې لاره ، او دده پدې بدله کی د ادبی لیاقته سره سره د موسیقیت طنان او خوځونکی روح هم نڅا کوی او دا بدله په داسی خوازه ږغ او ترنم ویله کېدای سی ، چی زموږ د ملی ږغونو او آهنګونو یوه خونده وره نمونه ګڼله شی .

[نور د ۱۵ مخ په پای کی]

(زموږ لیکوال)

او شاعران

ښاغلی عبدالرازق «پالوال»

(مات لوښی)

صراحی او کټوری چی پر میدان وی
د ساقی سترګی درنې ځان په تکان وی

هم بدلی هم ایشلی وی هم سروز وی
څه مستی وی څه هوس څخته یاران وی

زړه وزړه ته ور نژدې وی خوله وخولې ته
دوې ښادۍ چی یو پر بل باندی مهمان وی

که د شپې تر ګرېوانه ئې سررا ویوست
د سپوږمۍ مخ به په دې همت روښان وی

له سرو شونډو ئې خوا ټوله سی خاټوله
په قدم ئې ویرانه وطن ودان وی

را رسېږې ساقی غم تر غاړی نیسم
پر ژوندون باندی می سر ایښی تاوان وی

د پښتو ادب یوه ښکلی....

د ۱٤ مخ پاته

نو د سیدال په جنګی کرکټر کی موږ د آرټ او نفاست تجلیات هم د شعر او موسیقی په رنګ کی مومو، او دا زموږ د بریالی جنرال د شخصیت یو بل ښکلی او د ستایلو وړ اړخ دیء چی د پښتنو ځینی نور جنګی نوابغ لکه: خوشحال خان او احمد شاه بابا او شاه حسین هوتک او پیر روښان ئې هم څه نه څه لری.

د حیات اوبه هـاله ورله ښایېږی
هغه آن چی ځان بې جانه، جان بې ځان وی

جنګ او صلح سره خاندی خواله کاندی
چی به شرنګ د پیمانو سره پیمان وی

څو چیښی ئې کټوری په رېږدېدو وی
تر هغو له صراحی سره ګردان وی

چی میوال د میو پورته کی پیکونه
په انڼ د لېونتوب دا مینان وی

همېشه ئې جنګېدلی وی لـه لاسه
یو تر بله مـداماً سره قربان وی

هیڅ جرګه ددوی دجنګ مصلحه نه سوه
که حاضر ئې قضاوت له رمضان وی

لا پخپله هـم ذ صلحی قربانی وی
که نه جنګ به پر هر ګنج باندی پښېمان وی

نور بې هوښه دوی له ځانه وی بې ځانه
چی نو کری ئې په خونه کی پاشان وی

الك، کروړ لوښی د کلال د لږو خټو
په ورانی سره دیوه ئې بل ودان وی

څو پېړۍ به ئې پر سر وی تیری سوی
اړ ولی به اوز شکله ور دوران وی

په سل ژبو؛ زر نومو به نومېدلی
اشغال کړې بې په وخت کی یو مکان وی

بیا سبا ئې سره بیا وی درنګهاری
وایی داچی عاقبت به مو څه شان وی

آزانګه ئې له تماسه څخه سی پورته
چی نغښتلی یکښی هسی رنګ داستان وی

موږ او دوی پخپله څوك دچا څه کېږو
دجهان پوه او ناپوه به هم حیران وی

هم په غم هم په ښادی کی سره مات یو
په بې خونده ژوندانه کی موامان وی

په بنډ کیو مو کړی پټ د مخ خپونه
را وهلی ئې پرمات زړګی پتریان وی

تودوی ئې کور کانۍ زموږ تو کر کی
هم کودی وی هم کودری هم ګیچان وی

نن جوړ یږو، سبامات بیرته یو خاوری
را سره به دا ګردش تر کم زمان وی

خواری ختې سو هر څوك را پکښی خیژی
و بې غازو نه ختلی متاران وی

په وهلو، ټکولو مو تسمه کی
د مزدور خولې پرموږ باندی باران وی

هر چی غاز نه لری دغسی به ژوبلې
له ترټلو به مخ شین لکه آسمان وی

غم له غمه څخه زیږی ښه له ښو څخه
مخ دی پرته سی د ژوند چی مرګ پایان وی

نه خوږ یږو، نه پوهیږو، چی څه کیږو
بې حسی مو د دردمند وجود درمان وی

د کلال پرڅرخ سپاره ها چی غازدار سی
تو به کاږیء تر بې غازو سرګردان وی

هره ورځ ئې یو هنر له بله زیږی
د پرون تر نیم کلالو، کلالان وی

هغه خاوری، ها او به یو، هغه ختې
بل موجود را څخه جوړ کی بل سامان وی

لا دلمر په تاو مو نه پریږدی چی وچ سو
د اومو د پخېدو شرطونه ګران وی

تور دودونه ئې تر سر خیژی خاموشه
داښ له خپلی بدی ورځی ډېر ستومان وی

څه لمبې راباندی څرخی څه بیده یو
نه څه ښورو، نه څه وایو، څه مو توان وی

څه لړمون دیء پکښی څرنګه پخیږو
هر غافل وجود له ورو ودی ودان وی

را شوه چی سو بأزار ته خپله غواړو
چی د غوړ پخلی به چیری تود دېګدان وی

په خپل منځ کی تول راغلی سی بدرودة
یو د بل په رېز مرېز پسې روان وی

یو له یوه څخه خواړه وړی په ځان کې توی کی
بل په مټی ځای نیولی پر سترخان وی

که ئې خپل دسترخان صدرؤ خو و هوا
ګوره څو بې کښېنولې پر بتان وی

په چوپړ به ئې څوك ستړی وی په ځغاسته
څخه ؟ مینځی به ولاړی که مریان وی

په هنده به ئې زموږ د زړه له وینو
کله، چاتر سره کړی خپل ارمان وی

چی د ځان سلامتی پر جهان غواړی
د هغو له پاره ړنګ زموږ کاروان وی

که هر څو ئې ساقی تینګ ترغاړی نیسی
تر تنګ ستونی بیا تونګ کړی دا بیان وی

د «پالوال» قلم وای ژبه د ګونګیانو
چی لږ کښلی پرې احوال د بې زبان وی

که به نه وایم لا هم

که دی سترګی چیری رونی پرشها سی
بیا نظر سی بې وزره په هوا سی

پر اسمان سی د غرور ربة النوع
ناز، نخرې، کنج، کرشمې، نزاکتونه
که بتکی ئې پر تندی ورتکوهې هم
له اړتیا به سر له غربه درښکاره کی

دغوتی غوندی ئې یوه خولګی خندا سی
ړنګه بنګه خرامانه بې پروا سی
مخ به نه درواړوی چی د مۍ «۱» شا سی
چټه څه چی یو کچکول به درله راسی

دګدای غاړی ته واچوی لاسونه
سترګی خوله به ځنی درومی آیسته دوری
که به داسی امتحان ورباندی کیږی
«پالوال» ښه وایی که نه وایی لاهم

سر تور سر په وچو شونډو هغه داسی
لکه ډکه پیاله تو یه شاؤخوا سی
ښایسته دی یو مخیژه بې نوا سی
چی د ښکلو دی یو بل صفت اړتیا سی

پرسده

په زړه خمر رغړوم چی ګوندی پاک سی پرسده
خاوری خیرې ئې پر یولی د هر چاک سی پرسده

تک تور نوغی ئې د غم ورځنی یوسی
کم ګنجونه چی لری توله رنجونه

څو دا باغ په دې لاله بر کتناک سی پرسده!
یکښی غرونه په یوه هنده هلاک « « «

چی هر چیری په وټ وټ ژاړی له ځوره
پرونی غمجن یادونه ځنی هېر سی

دا بې وا که زړه مې لږ تر لږ په واک « « «
د عالم له قید او بنده څخه بېباک « « «

د هوښیارو پر ژوندو خاندی بې هوښه
د مدهوش څیری لمن به ورته نیسم

څو د عقل منطقې کور ئې تاړاک « « «
یکښی تو یی ګوندی څه اوښکی د تاک « « «

دا چی کب غوندی بې ښکلو تپریږی
ښایی لور د مغنی په میخانه کی

د مستۍ په موج ئې غرق د غه تپاک « « «
له پالوا له سره روږده په چیښاک « « «

«۱» سپه زمۍ

تاریخي :

دښاغلي «هاروني» ترجمه

وایشیا ته د اسکندر راتګ او دلته دده فتوحات د یوې ښځې په تحریک ؤ

وائي د نړۍ د نامتو فاتحانو له ډلې څخه د لوی اسکندر وپایې ته څوک نه دی رسېدلی ځکه چې دده د حکومت قلمرو د برتانیې له جزائرو څخه بیا د سیلون تر جزیرې پورې ؤ. د اروپا او ایشیا د ډیرو برخو اشغال دده په وخت کې دده د هغو قواؤ په توسط وسو کوم چې ئې پلار «فلیپ د مقدونیې پاچا» ورته برابرې کړې وې.

نن ورځ بېله د اسکندر بې له ښار څخه بل دده له اثارو څخه څوک نه وینې خو دده فتوحات په تاریخ کې بیخي ښکاره دي

اود تاریخ لیکونکي نسي کولای چې سترګې پرېټې کې. اسکندر پداسې حال کې چې یو خودخواه سړی ؤ بیا هم دونه

محبوب ؤ چې یونانیانو به فوق-العاده دده لمانځنه کول.

داچې د نړۍ د نیولو فکر ور ولاړ سو دوه علته وه یو د

[رکساند] سره دده واده کول او بل دا چې د یوه خوږ او صمیمي

ملګري [کلتیوس] وژل چې دده په لاس ووژل سو واقعه

ده د دې سړي د مرګ پېښه داسې وه :-

چې یوه شپه اسکندر د مستي په حال کې ځان خدای وباله

[کلیتوس] ورته وویل: چې ته څنګه خدای ئې که په پلانی جنګ کې زه نه وای د سره ته به دوخته مړ وای او په هغه

ځای کې ما د مرګه خلاص کړې داخبره پر اسکندر ګرانه

تمامه سوه. او ده ته ئې وویل: چې ته باید اوس د ستي زما پښې

رامچ کړې. کلیتوس داخبره ونه منل نو اسکندر ورته په

غضب کې سو او په هغه نیزه چې په لاس کې ئې وه پرده حمله

وکړه او ځای پر ځای ئې وواژه. له دې وروسته ئې وغوښتل چې پدغه نیزه خپل ځان هم ووژني خو دلښکرو مشرانو او سردا-

رانو ئې دلاسه نیزه واخیستله. کله چې پر هوښ راغی و پوهیدی چې خورا بدکار ئې کړیدی مګر کار تر کار تېر سوی ؤ

دې واقعې خپل ځای او وطن ورته اور کړی وو.

دوهمه موضوع د [رکساند] سره دده دواده موضوع ده دا

یوه ښکلی نجلۍ وه چې د اوسني ترکیې له اوسېدونکو

او د اسکندر د دربار لوبغاړې وه. کله چې د اسکندر سترګې

پردې وموښتلې نو خپل دخوب واطاق ته ئې ور
وغوښتله خو نجلۍ حال ور کی چی څو می په
نکاح نکړې زه به دخوب وځای ته در نه سم .
اسکندر دداسی جرئت څخه خوښ سو او نکاح

ئې بزوتړل کله چی نجلۍ دده په نکاح سوه نو
هروخت به ئې د ایشیا د زرغونو مځکو اوشنو
باغونکلونه ورته کول څو ئې اسکندر ودې ته
راواړاوه چی ودې خوا ته لښکر کښی وکړی .

۳۲۷ ق م کال ؤ چی اسکندر دخیبر له درې څخه
تېر سو یو سل شل زره پلی لښکریان، پنځلس زره
سپاره، یو څه هم مهندسان، شاعران او لیکوال
مریان او چوپړیان ورسره وه چی د سیند درې

ته ورننووت . پدې اوږده سفر کی دده منشی
توله پیښی او حالات د اسکندر دپاره لیکل
اسکندر به بیا دچابکو سوارلیانو په توسط دا
حالات و خپلی مور ته چی [اولمپیا] نومېده او

په مقدونیه کی وه وراستول .
دسیند په دره کی اسکندر دیوه مشکل سره
مخامخ سو هغه داؤ چی دوی خورا ډېر غنیمتونه
په لاس راوړی وه او لښکریان ئې دهغه په حمل

او نقل کی بیخی ډېر په زحمت سوه او دوی ئې
دبښو واچول نو هغه ؤ چی اسکندر امر وکی ء

چی دا مالونه دی وسوځل سی، پدې ترتیب دوی
په ډېره چابکی تېر سوه او وهندته ورشیوه سوه
اسکندر خپل لښکر د رود پرغاړه څلور ځایه
کی ء او په څلور ځایه ئې تر رود پوری ایستل

پدې وخت کی له هندی شاهزادګانو څخه دخپلو
لښکریانو سره دده مخی ته راغلی ؤ دده په
لښکرو پوری سول کله چی د منځنی هند و
زرغونو جلګو ته ور داخل سول اسکندر پوه سو

چی دا شاهزاده مو په بو دام کښېباسی نو د
اسکندر لښکریانو هندی ټولوا کزوی وواژه
وروسته اسکندر بېله لارښوونکی د پنجاب و
ایالت ته ورننووت، د پنجاب سلطان چی [پوروس]

نومېدی یو زړه ور او غښتلی سړی ؤ ځینی مؤرخین
ئې و نه دوه متره یاده وی او وائی: چی یوه غښتلی
آس به خورا په زحمت دیوه ځای څخه بل ځای
ځای ته وړی ء، نو [پوروس] به تل پر فیل سپرېدی

اسکندر چی دده و ناحیې ته ورسېدی، پوروس
دڅلو ېښت زرو سپرو جګړونو سره دده مقابلې
ته راغلی ؤ دا ځای د [جلوم] او [چناب] رود-
خانه وه اسکندر چی ولیدل چی د پنجاب سلطان

دده مقابلې ته فیلان هم راوستلی دی نو ئې سیده
پرغل نسوای کولای په زیاته بیا د اسکندر
آسانو د دغو فیلانو او څه نورو ځناورانو څخه
چی هندیانو دجګړې دپاره روزلی وه تور وخوړ

نو اسکندر څو ورځی صبر وکی ددې دپاره چی
اسان ئې د فیلانو او نورو درنده ګانو دبوی او

لیدو سره عادت ونیسی یو فیل ئې هم وموند
او دخپلو اسانو په منځ کی ئې ودراوه .
یوه شپه چی خورا توند باران هم پیل وکی
اسکندر و خپلو لښکریانو ته امر وکی چی د

جلوم تررود چې بیا یونانیانو [هیدابس] وباله ورپوری وزی او د پنجاب پر لښکرو ئې د څو خواؤ سخت یرغل وکیء او دوی ئې مات کړل د هغې خوا فیلان هم چې خپل لښکریان ئې مات

ولیدل تور وخوړ د فیلانو دې تور خوړلو هم د هندی لښکرو په ماتېدو کی لوی سهم درلود پوروس تر آخیری دقیقې پوری وجنګېدی کله چې ئې ولیدل چې په لښکرو ئې ماتې ګډه سوې

ده او په خپله هم زخمی سوی ؤ نو ئې د جګړې دوام بې ګټی وباله او دی هم مات سو . اسکندر سوارلیان پسې ولېږل او دی ئې وخپلی خیمې ته وروغوښت ، د اسکندر ئې ښه او قد ؤ قامت

خوښ سو او دده شجاعت ئې هم وستایه پسله هغه ئې ورته وویل: غواړې چې څه درسره وکم ؟
پوروس ورته وویل: لکه د یوه پاچا سره چې ښائی .

اسکندر ورته وویل: چې بل څه غواړې ؟
پوروس ورته وویل چې بیا هم د دې خبری جواب زما په لومړی جواب کی واضح دی .
نو اسکندر د پنجاب مځکی د یو څه نورو برخو

سره وده ته ورو بخښل او دې د خپلو لښکرو سره د هندو ختیځی خوا ته روان سو په هغه زمانه کی

د خلګو دا عقیده وه چې هند د نړۍ پای دی او پسله هغه دریابونه دی بیا نو وچه مځکه نسته نو پدې جهت اسکندر غوښتل چې دا د نړۍ پای ووینی .

اسکندر د خپلو لښکریانو په غوښتنه چې بیرته د خپل هیوادو خوا ته راوګرزېدل هندی خلګو به د خپلو ښارو دروازې نه ورخلاصولې او خلګ بیرته د دوی د اطاعت څخه ګرزېدلی وه

خو اسکندر بیا هم د زور څخه کار واخیست او دوی به ئې د خپل ځان تابع کول او بیا به ځنی تېرېدیء .
پدې لار کی اسکندر د [دارا] د لوړ سره چې

[استاتیرا] نومېده هم ازدواج وکړ کله چې د وطن د ګرزېدو په حال کی بابل ته

ورسېدیء یوه سخته تبه پر راغله او دا د دنیا فاتح ئې د ځای کی چې په همدغه ځای کی د

عمر پر ۳٤ کال مړ شو او امپراطوری ئې د سردارانو په منځ کی سره ووېشل سوه .

[پخې خبری]

ژوند

ژوند قمار دی ، ماجراده ، انسان ئې یا ګټی یا ئې بایلی . ژوند یو معرکه ده چې تمام نلری . کله چې د یو تن آواز کرار کرار آرامیږی او ورکیږی بل ځوان او تر دمخه قوی آواز پورته کیږی او د دې نکل مزې پسې ټینګوی او ادامه ورکوی .
[ملسیس]

ژوند پخپله حقیقی معنی سره ډېر سخت او مشکل دی او ډېر خلګ یوازی د «وجود» په مرحله کی اوسیږی .

«ویران»

ښاغلی عبدالقادر «تبر»

یو سړی دی چی تل ئې سر ومځکی ته ځـړولی په فکر کی ډوب او پر لاری کرار کرار ګـامونه اخلی که پوښتنه پـې و کړیء دا متواضـع او فکرجن سړی بـه ښاغلی عبدالقادر «تبر» وی نوموړی د کندهـار یـو دردمند، خواخوږی آرام او خوش اخلاقه شاعـر دی، دا صفات ئې پرته داشعارو دویلو په عادی مجلسو کی هم لیدلای سو، داچی تخلص ئې تبر دی وجه ئې داده چی د تبر په غم غمجن او په درد دردمند دی .

ددوی په ادبی او شاعـری ژوند کی تر هر څه دمخه دا ښه خبره ده چی تر اوسه ئې یعنی په دا ۲۳ کاله یوه داسی پارچه نه ده ویلی چی هغه دی دخط ؤ خال ستاینه او یادونه وی لکه ښاغلی «تبر» چی پخپله هـم وائی :-

[ماته په ۱۳۱۸ش کال د شعر ویلو قوه را حاصله سوه چی له هغه وخته څخه ما ډیر اشعار ویلی دی خو زما په شعر کی د خال وخط ذکر کورټ نسته] .

نو رشتیا چی ددوی د اشعارو رنګ تنقیدی ، اصـلاحی تربیتی او اجتماعـی وی . او پدې خبره بیخی ډیر خوشاله کیږی چی د جرائدو پرمخ د دوی په قلم مضامین ولس ته ور وړاندی کیږی لکه پخپله چی دی هم وائی [د شعر ویلو څخه صرف زما مقصد دادی چی د وطن ورونه می اصلاح او پوه وی] .

نـور نـو ښاغلی تبر د حـاجی محـمد نعیم زوی د حـاجی رحیمداد لمسی په خټه سنځر- خېل کاکړ دی دده نیکه حاجی رحیمداد د ژوب د کاکړانو څخه ؤ او د غزا په کال دخپلو شپږ ځوانـانو زامنو سره د پرنګیانو سره د غـزا په نیت کندهـار ته راغلی دی او د پرنګیانو سره پـه جګړه کی پخپله دده نیکه ددرو ځوانانو زامنو سره شهیدان سویدی .

زموږ داشاعـر ښاغلی تبر په ۱۲۸۶ش کال د کندهار په

لومړی ناحیه کی زېږېدلی او لوی سویدی .
په ۱۲۹۶ کال کله چې ئې عمر و لسو کالو نه
رسېدلی ؤ دشالمار په مکتب (اوسنی مشرقی
ښوونځی) کی ئې په تعلیم او زده کړه پیل کړی

او تر ۱۳۰۳ کال پوری ئې دوام ور کړیدی خو
کله چې ئې دلوړو تعلیماتو وخت رارسېدلی دی
دبلارمرګ فرصت نه دی ور کړی چې نور تعلیم
و کی او دا تعلیمی دوره ئې پرېنځم ټولګی قطع

سوی او دژوندانه ارتیاؤ دپوره کولو دپاره ئې
وداسی کارونه لاس وراچولی دی چې دوډی
او نور ضروریات په برابر کړی چې بدې لرکی

ښوونه (معلمی) هم شامله ده .
لکه زموږ دالیکونکی اوشاعر چې وائی [په
۱۳۰۸ش کال کی د شالمار دمکتب په معلمی
مقرر سوم اولاتراوسه ددولت مامور یم] . د

معلمیء وروسته نوموړی خو ځایه مامور یتونه
کړیدی چې اوسنی وظیفه ئې د کندهار د کرهنی
په مدیریت کی ده .
ددوی شعرونه او توله آثار چې د یوه دیوان په

شکل ئې راټول کړیدی اودپښتو دطلوع افغان
په ورځپاڼه کی چاپ سویدی د ویلو وړ دی، د
نمونې په توګه داڅو توټې در وړاندی کېږی:

هغه دی

چې پر بېوزلو ئې زړه سوځی قربیان هغه دی
وی دحلال حرام پری فرق مسلمانان هغه دی

تل وی په زړو کی محبت د کام وطن ورسره
چې ترشخصی مفاد شوه تېر پهلوانان هغه دی

په تش ویل سره دخولې خو سړی نه شی مېړه
چې ځان ستومان کی په چوبړد کام ځوانان هغه دی

ځوانان هغه ؛ ځلمیان هغه ، مېړنی بوله هغه
چې د وطن و بچاړ کارونه کړی ودان هغه دی

چې ئې ساتلی امنیت وی په هر کوټ کی د ملک
زموږ باشرف غیور عسکر منصبداران هغه دی

چې په هر وخت کی کام بوزړه کی ذهیوادیه خدمت
خانان هغه ، لویان هغه ، د کام مشران هغه دی

چاچه سپارلې وه زامن خپل دمکتب ودرس ته
نن په تعلیم او تربیه تکړه ځلمیان هغه دی

څوك چې په شاړه مځکه کښت وکړی دخپل موټ په زور
اخلی حاصل ډېر دلږ تخمه بزګران هغه دی

دخپل چارو کی کاریګر د عمر ځان دپاره
چی کام ئې وایست له احتیاجه تجاران هغه دی

دا دخپل کلی پر ډېران باندی چی نیسی چرګان
په بڼه باز او په خویونو تپوسان هغه دی

کی د بېوزلو پر وس جوړه شوله نرخ ونوا
نو په رشتیاد ښاروالی زموږ وکیلان هغه دی

په شاعری ؤ شعر هر ځای کتابونه ډك دی
کې په دردناك شعر، تبرویښ کړ شاعران هغه دی

اضافه ترخپل خورك په کورکی مه ساته غنم

نن دلاری د اخوت دغه مضمون درته لیکم
اضافه ترخپل خورك په کورکی مه ساته غنم

ای ګران مسلمان وروره راکړه نن لاس د اخوت
په دین او په مذهب را شریك وروره د ملت
نن ښائی پر بې وزله طبقې ستا شفقت
ګرانی ته چی غنم ساتی هغه مدام غندم
اضافه ترخپل خورك په کورکی مه ساته غنم

مقصد که دی پیسه وی درخرڅیږی ستا پرخیال
د ساتلو ئې مسئول ئې وبېرېږه د وبال
قیمت به ئې تنزیل شی ځکه ښه دی داسږ کال
پر خپلو ورونو نه ښائی کول ددې ستم
اضافه ترخپل خورك په کورکی مه ساته غنم

بللی خدای، رسول او حکومت بد احتکار
هم گورو په نفرت و مرتکب ته ددې کار
و شل روپۍ ته ولاړ شی غنم من د کندهار
حساب درسره کیږی که نن نه کړې د ورور غم
اضافه تر خپل خورك په کور کی مه ساته غنم

غنم ساتی گرانۍ ته پـه ښه لویه پیمانه
مقصد دی وی گرانی لیکن کوې یو بهانه
تېریږی پر هـر چا دا پنځه ورځی زمانه
پرموږ باندی به و کړی خپل لوی خدای فضل و کرم
اضافه تر خپل خورك په کور کی مه ساته غنم

ویل خو هم دغو مری وی هوښیار اره «تیزه»
نا پوه به ځان لاهم په درب و دروب کړې بې خبره
هر څوك دی سنجوی د آخرت خپل خیر و شره
حاجت نشته چی زه ستا خیر و شر بیا نـوم
اضافه تر خپل خورك په کور کی مه ساته غنم

خاوندان د تربیې مو پښتنو ورونو اولاد کړی

پیدا کړی انسانان قدرت هـر کار اره قابل
د نړۍ له قسما قسم زحمتو شوله حامل
ور کړه شوی استعداد د زده کولو دی کامل
تل به زده کړه د کمال ؤ علم کړی اولاد شامل
که کوښښ وی خپل اولاد به عالمان او باسواد کړیء
خاوندان د تربیې مو پښتنو ورونو اولاد کړیء

که په خیال کی مو وی دا چی قوم دی خلاص شی داړۍ
دروازه د علم ؤ فن مو پر اطفالو مه تړۍ
مه په لوی لاس سعادت د دوی له ژوند څخه شړۍ
تو له و بښ شی ځان چمتو کړی و ژوندون ته د نړۍ
په ثمر د نو نهالو دا عزیز وطن آباد کړیء
خاوندان د تربیې مو پښتنو ورونو اولاد کړیء

نشته هیڅ شی وهیچانه بېله خپل زیار اوزحمته
باید واخلوتوله، کار دپښتنې لوړه همته
تنبلی لویه بلا ده ځان ژغوره له دې عادته
که غوښتونکی پردنیائې د ژوندون باسعادته

په تعلیم اوتربیه مو داطفالو زړونه ښاد کړیء
خاوندان د تربیې مو پښتنو ورونو اولاد کړیء

هیواد غواړی په تلوار دآینده نسل روزل
په روزنه کی ددوی باید چی نه وی تزلزل
په دې کار کی ناپوهی ده چی کوی څوك تغافل
رسی هغه ومقصد ته چی وهی شپه ورځ منزل

کوښښ و کړی دوطن څخه معدوم جهل او فساد کړیء
خاوندان د تربیې مو پښتنو ورونو اولاد کړیء

دبې کسبه، بې کماله په نن ورځ کی ژوندون سخت دی
که په سن دوړ کتوب تربیه نه شو څوك، بدبخت دی
چی هرڅه پرچا تیریږی همهغه قیمتی وخت دی
چی اولاد وی ښه روزلی داهم تاج دی اوهم تخت دی

دهر علم ؤفن دپاره ښوونځی ورته ایجاد کړیء
خاوندان د تربیې مو پښتنو ورونو اولاد کړیء

مریضان دجهل کړیء دعلمیت په دوا جوړ
کړیء قابل دزراعت دمځکی هرځای چی وی شوړ
دصنعت په برکت مود «تبر» وږی کړیء موړ
دوطن په ودانی کی برخه واخلیء ځوان و زوړ

دپردیو له احتیاجه موفارغ داخپل هیواد کړیء
خاوندان د تربیې مو پښتنو ورونو اولاد کړیء

نوميالی پوهان

الفرد نوبل

یا

هغه سړی چې خپله ټوله شته ئې د پوهې او سولې په لار کې ولګوله

الفرید نوبل ۶۰ کاله پخوا د ۱۸۹۱ کال د دسامبر په اسمه شپه په سان ریمو کې مړ شو . د له مړینې څخه یو کال پخوا خپل مشهور وصیت لیک کښلی او په هغه کې ئې ولیکل چې زما د پانګې کټه چې له ۳۱ ملیونو سویدنی کرون څخه زیاتیږی، پنځه برخې کړی او په هغو یوهانو نارینه و او مېرمنو ئې وویشی چې د فیزیک، کیمیا، طب، ادبیاتو او د نړۍ د سولې دپاره کوښښ او مجاهده کوی. په همدې اساس هر کال بېله وقفې د دسامبر په اسمه د نوبل د مړینې د کالیزې په ورځ د ستاکهلم په ښار کې بې د ملیت او نژاد په نظر کې نیولو څخه هغو مستحقو نارینو او مېرمنو ته وېشل کېږی چې دهغه مستحق وی .

هره جائزه ئې سل زره سویدنی کرون کیږی د دغو جائزو وروستۍ د دغو بیسو په اخستلو سربېره د نړۍ شهرت هم لرانته غوره کوی لکه د نوبل جائزه فوق العاده امتیاز او اعتبار لری .

الفرید نوبل د ۱۸۳۳ کال د اکتوبر په ۲۱ د ستاکهلم په ښار کې زېږېدلی او د دینامیت په اختراع سره ئې د نړۍ شهرت کټلی دی سره له هغه هم دده د فعالیت شهرت محدود پاتې شو، لکه سویدنی مخترع نقریباً د ۳۵۰ پاتنټو (امتیاز) خاوند ؤ چې له هغې جملې څخه ئې ډېر لږ دچاودونکو موادو سره سره او کار درلود .

نوبل وویل: له دغو اختراعاتو سره سره ما د انسانانو دپاره ژوند آسانه کړ او د دوی دپاره مشکلات نه غواړم زه په وېره وینم چې کټه څنګه تل پخپل سیوری کې دوېرې او ډار هر کلی کوی .

نوبل داحق درلود چې وېرې او ډار نه لار ورکړی لکه د دینامیت له اختراع سره د

نړۍ څېره بل شان شوه هغه وخت چې پخپله اختراع سره ئې آله او وسیله د بشر په لاس کې ورکړه پداسې حال کې چې هغه یوه ویرونکې وسله هم ګڼل کېده . د نوبل دژوند په وخت کې ځینو هیوادونو په تېره بیا فرانسې او انګلستان کوښښ کاوه چې یوا ځې د چاودونکو موادو خاوند وي چې خپل نظامي ښه والی او تفوق تامین کړي خو نوبل د دوی له دغې مفکورې سره په کلکه مخالف ؤ، نوبل عقیده درلوده چې د جګړې خطر په همدې اندازه ژر لیرې کېږي. که ټول ملتونه په مساوي ډول مسلح وي اساساً ده ته دا ډارؤ چې هیڅ دولت باید پر بل دولت باندې فوقیت ونه لري نوبل له نښتې سره دینامیت اختراع کړي نه دي بلکه بشر له پخوا پېړیو څخه د چاودونکو موادو په پلټنه کې وو. ځکه چې بشر او یا ښه ووایم تخنیک دغو موادو ته ډېر ضرورت درلود چې له هغو څخه په عمل کې استفاده وکړي مثلا په غره او نورو ځایو کې د تونل په کیندلو کې نوبل اصلاً د نیترو کلیسترین مخترع نه دي چې له هغه څخه ئې وروسته دینامیت پیدا کړ سره له هغه چې خلک [نوبلي چوونکي مایع] بولي ځکه د هغه حقیقي مخترع پروفیسر [سوبراد] ؤ چې په ۱۸۴۷ کال کې ئې دغه ماده پیدا کړه خو هغه پدې پوه نشو او له هغه څخه ئې استفاده ونه کړای شوه نوبل په یوې خاصې پاملرنې سره هغه مطالعه کړه .

د ۱۸۵۸ کال په جنوري کې د دریم ناپلیون د وژلو توطئه جوړه شوه اته تنه د درو بمونو په ذریعه مړه شول او تقریباً ۱۴۸ تنه ټپیان شول خو امپراطور ته کوم زیان ونه رسېد . له دغو بمونو څخه یو په تېره بیا ډېر فوق العاده زیان ورساوه چې نیترومانیت ئې درلود چې دغه ماده د نیترو کلیسرین له نژدې او دغه ډول موادو څخه دی، نوبل د چاودونکو موادو لومړی فابریکه د ستاکهلم په ښار کې جوړه کړېده او خپل د ضرورت وړ پیسې ئې د پاریس له بانک څخه لاس ته راوړلې، خو د پیسو اصلي ورکونکي دریم ناپلیون ؤ چې پخپله ئې خیال درلود چې پدغو موادو کې په کومه اندازه مضره قوه او قدرت شته دی او پوهېده چې د دغو چاودونکو موادو د یوې اندازې خاوند به څومره قدرت په واک کې ولري .

د دغې فابریکې له جوړېدو څخه څلور میاشتې وروسته د نوبل چاودونکو موادو د ۱۸۶۴ کال د دسمبر د میاشتې په څلورمه نېټه هوا ته والوتل

او دا فرید نوبل یو ورور او د ده څلور تنه ملګري ټول مړه شول .

نوبل سره له دې هم لدې کار څخه لاس وانخست او د دغې بدې پېښې ریکلامونه ئې ترتیب کړل

چې پدغه وسیله د خلکو د پاره د خپلو مصنوعي چاودونکو موادو د قدرت او طاقت ثبوت څرګند کړي په همدې اساس ئې نور پیسې ورکونکي ځان ته پیدا کړل او له اوو هفتو څخه وروسته ئې بله نوی فابریکه په کار واچوله د نوبل شهرت او موفقیت ورځ په ورځ زیات شو

او سمدستي ئې په پرله پسې سفرونو پیل وکړه له یوه هیواد څخه بل هیواد ته او له یوې سیمې څخه بلې سیمې ته په حرکت کې ؤ خلکو دی

«نور په ۳۰ مخ کې»

د چینی ادبیاتو څخه :

د میخورانو

«نغمه»

غوږ ونیسی؛
غواړم چی تاسی ته یوه داسی
غزل چی زما دزړه آواز دی
ووایم .

« افتخار ، شهرت ، لقب او
عنوانونه په څه درد خوری؟
په هغه شی پسې باید هڅه وسی
چی په زحمت و ارزی» .

هغه څوك چی د ډیری هوښیاری
ادعا کوی ، ډیر بد خلقه او
تریو تندیه وی .
اما و میخورانو ته وګوری

چی څومره خوشاله او سرخوشه
دی .
اوه ، اې خدمت ګارانو بیکاره
مه کښېنئ ،

او ، مه وایاست چی په میدان
کی نوری نغدی پیسې نه شته .
ولاړ سیء ، زما چټک آس
خرڅ کړیء .
ولاړ سیء ، هغه زما ګران کالی
بازار ته یوسیء ؛

اوحتی زما وروستی اشعار د
رانیونکو د پاره یوسیء .
ټوله شیان ور کړیء ، سره او
سپین زر په واخلیء .

وروسته هغه [می] خرڅونکو
ته ور کړیء ؛
څو زموږ د پاره د [ناب ، می]
راجوړ کړی .

«می» راوړیء ؟
او پرې مېږدیء چی ووایم ؛
چی ژوند ټوله له غمه ډك دی .
آیا اروی ، چی زه څه وایم؟» .

مرجان

وماته ئې مرجان د سوغات په
توګه را استولی دی .
رشتیا دغه بې ساه درخته چی نه
پاڼی لری ، نه ګل ، نه ډبره ده
او نه وړی .
چا وماته را استولې ده ؟
لومړی ووایه ؛
دغه د ډبری زړه چا ، در بخښلی
دی ؟
اوچا دغه هدیه وتاته در کړې
ده ؛
چی نه زړه دی ، او نه ډبره ؟

ژباړونکی ؛ محمد احسان «کارګر»

وعده

اشنا یه ؛
پرون چی دی د لمر لوېده
پروخت د آلو بالو د درختی
تر شګوفې لاندی هغه وعده
چی تا راسره کړې وه ؛
څه سوه ؟؟ .

ښاغلی !
لومړی دا راته ووایه هغه
ګړی چی ما ستا سره وعده
کوله د ګل پر پاڼه چی هغه
شبنم پروت وو ؛
څه سو ؟؟؟ .

«د ۲۹ مخ پاته»

د [اروپا سترولګرد] باله سره
له هغه هم نوبل سره له دې چی
ډېره د بدبه او ډیری پیسې ئې
درلودلې او پوره بډای ؤ خو

بیا هم نېك بخت نه ؤ او په
مالی خولیائی بحران اخته ؤ
او یوازی ئې ژوند نه شو کولای
له همدې کبله د ژوند تر وروستی

وخت پوری د یوې کورنی په
جوړولو بریالی نشو .

چل زینه

دچل زینې ځمیر محمد بابر ظهیر الدین د مغلو و پاچا نه منسوب دی چې په [۸۸۸ هجری کال] پیدا سوی او په [۹۳۷ هجری کال] مړ سو بدی او ویل کیږی چې دچل زینې کار په ۹۳۲ هجری کال د ده زوی بهادر محمد کامران و پای ته و رساوه، لیکنی تاریخونه دچل زینې د کار بشپړ کېدل د مغلو د کورنۍ د ویوه بل پاچا جلال الدین اکبر ته حواله کړی چې د هغه له خواشخه تکمیل سو بدی، په هر صورت که چل زینه بابر ته منسوبه ده که ئې تکمیل جلال الدین اکبر ته منسوب دی خو دې تاریخی ځای مفکوره چوریدل، هغه د برین اطاق کیندل چدولونه، لیکونه او نقاشی پر کول ښائی د خپلو نیرو کاریګرو په همت او کمال مربوط و بولو لیک خوئې ښکاره سید معصوم کندهاری کښلی دی چې د هغه وخت یو مؤرخ او شاعر و دچل زینې د بانی مفکوره چې دا مؤذن ځای ئې دیوه اطاق او زینو د پاره موندلی او تا کلی دی او هم د کاریګرانو او حکاکانو زیار د پردستاینې وړ دی. چل زینه که څه هم یو تاریخی یادګار دی د سیل او مېلې د پاره بیخی به زړه پوری او ښکلی دی هغه وخت چې د کندهار زور ښار و دان و دا به په خاص دول یو د مېلې ځای و ۲۳۰ کاله د مخه د هغه ښار ارد هغه وخت یو شاعر مرحوم عبدالرحیم هونک چې به چلارطنی او مسافری کی به بخارا او سمرقند کی ګرزی دچل زینې یادونه د خپل هیواد د هغه ځایو به سلسله کی چې د ده ارمان ئی داسی کوی.

﴿ یودم کښېنه به ایوان د چل زینو کښې ﴾
﴿ تماشا و کړه چې زړه دی سی بهغمه ﴾

اوس هم چل زینه برسېره پردې چې تاریخی ځای دی د پرمختګ، منظره ګانی ځکه د کندهار نوی ښار، احمد شاهی ښار او د هغه شاؤخوا کلی دا غنداو یوه برخه ته د ولنه معلومیږی چې یوه به زړه پوری تماشا تشکیلوی.

یخوا د چل زینې دالان ته ورختل ابزخه مشکل شانته ؤ ځکه چې زینو ئې داسی یو وسیله نه درلوده چې ورختونکی لاس برتکیه کړی وای هغه ؤ چې د مرحوم امان الله خان د سلطنت په دوره کی ئې و نوموړی زینو او دالان ته د اوسپنی کټاري ورجوړی کړی چې به زینو کی او هم د هغه لاره دالان ته ورختل ئې د پراسانه کړی دی. «عمرزی»

KANDAHAR

MONTHLY MAGAZINE

OFFICE:-

PRESS DEPARTMENT

KANDAHAR, AFGHANISTAN

EDITOR A.M 'KARZI'

(JANUARY) 1963

GOVERNMENTAL PRESS